دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت درېیم کال، ۱۲ مه ګڼه، پرله پسې ۱۱۲ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د غبرګولی ۲۵ مه د۱۴۳۲ هـ ق د رجب ۱۴ مه د۲۰۱۱ م د جون ۱۵ مه

درس قرآن

آیا انسان ګمان کوي چې مهمل او بابیزه پرېښوول شي؟ آیا دهغې مني چې په (رحم کې) توی شوی یو څاڅکی نه و؟ بیا د وینې یـوه توټه وه، الله پاک پیدا او ښه برابر یې کړ. او له همده څخه یې د نر او ښځې جوړه وړاندې کړه. آیا همدغه ذات توانا نه دی چې مـړي راژوندي کړي؟ هو توان ورسره شته. (الدهر: ۳۵ - ۴۰ آیتونه)

درس حدیث

له معاویه رضی الله عنه نه روایت دی چې ما عائشې رضی الله عنها ته یو لیک ولیږه چې ماته داسې یو لیک ولیکه چې څه نصیحت پکې راته وکړې او زیاتوه یې مه. نو هغې راته ولیکل: په تا دې سلام وي، له سلامه وروسته خبره داده چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې فرمـایـل یې: "چا چې د خلکو په ناراضه کولو کې د الله رضا ولټوله نو د خلکو له کړاوه به ورته الله بس شي او چا چې د الله په ناراضه کولو کې د خلکو رضا ولټوله نو الله به یې خلکو ته ور وسپاري" او په تا دې سلام وي. (ترمذي)

ایکن بیري له دولت سره د موازي نهادونو د لغوه کولو په اړه د کرزي د پرېکړې ملاتړ وکړ

کابل، پژواک:
په کابل کې د امریکا سفیر د افغانستان له دولت سره د موازي نهادونو د لغوه کولو په اړه د ولسمشر کرزي د پرېکړې ملاتړ وکړ او ویې ویل، چې د افغان حکومت له لارې به د دې هېواد د مرستو کچه لوړه شي.

ولسمشر کرزي له یوه کال راپدېخوا څو ځلي ټینګار کړی، چې د افغانستان له دولت سره ټول موازي نهادونه بایـد له منځه یوړل شي؛ نوموړي د ولایـتي بیارغوني ډلې او خصوصي امنیـتي کمپنۍ په دې نهادونو کې شاملې بللې دي.
د ولایتي بیارغوني ډلې د ببلابېلو هېوادونو له خواکونو څخه جوړې دي او د هېواد په بېلا بېلو ولایـتونو کې فعالیت لري؛ خو ۵۹ کورنۍ امنیتي کمپنۍ، چې د فعالیت جواز یې نه درلود او شپږ نورې کمـپنۍ، چې د فعالیت جواز یې هم درلود، د کرزي د تېر کال د زمري د میاشتې د فرمان له مخې منحل شوي او دغه

پاتې ۳ مخ

ستانکزی:

پاکستان برای برقراری صلح در افغانستان همکاری می کند

PROPERTY OF ACKU

کابل، رسانه ها:
مقامات بلند رتبه افغان می گـویـنـد: حکومت پاکستان نسبت به هر وقـت دیگر، آمادگی اش را برای بـرقـراری صلح در افغانستان نشان داده است.
گفته می شود نقش پاکستان در محو مخفیگاه های طالبان در پاکسـتـان و ختم حفاظت سران طالبان و القـاعـده توسط پاکستان، برای ایجاد صلح و ثبات در افغانستان حیاتی است.
محمد معصوم ستانکزی مشاور امور امنیتی رییس جمهور کرزی و رییس دارالانشای شورای عـالـی صلح افغانستان به خبرنگاران گفته است که آقای کرزی در جریان سفر اخـیـرش به پاکستان در دیدار بـا صـدراعـظـم یوسف رضا گیلانی از حکومـت آن کشور خواست تا در مذاکرات صلح کمک کند.
مقامات افغان ادعا دارند که مقـامـات پاکستانی توافق نموده اند بر آن عـده طالبان و تندروان حمله کـنـنـد که حاضر به مذاکره نیستند و حملات بر افغانستان را ادامه می دهند.
گمان می رود اکثر رهبران طالبان در خاک پاکستان به سـر مـی بـرنـد و هشدار حملات بر آنان، شاید منتج به آن گردد که آنهـا بـرای مـذاکـرات صلح سر تسلیم بگذارند.
معصوم ستانکزی در اشاره به توافق با پاکستان گفت:
"این توافق پیام های را در بـر دارد، اول این که راه برای آنانیکه خـواهـان

پاتې ۳ مخ

د تسلیت پیغام

په ډېره خواشیني سره مو خبر ترلاسه کړ، چې د حزب اسلامي افغـانسـتـان یـو تـن مجاهد، لیکوال، ژورنـالـسـت او صـالـح شخصیت محمد آصف مـخـبـت چې د تحصیل په دوران کې د محصلینو د ټولنې مشر هم و، د وریښې ناروغی له لامله په حق رسېدلی دی. انا لله وانا الیه راجعون
حزب اسلامی افغانستان او پـه څـانګـړې توګه د شهادت اونېزی ټول کارکوونکـي د مرحوم بې وخته مړینه یو سـتـره ضـایـع بولي، او د لوی الله جل جلاله په ستر دربار کې د دعا لاسونه لپه کوي، چې الله جـل جلاله دې نوموړي تـه فـردوس جـنـت ورکړي او وارثان دي یې د صبر او شـکـر پر نعمت ونازوي. آمین یارب العالمین

امریکا پر ترانزیټ تړون د عمل کولو هرکلی وکړ

کابل، پژواک:
امریکا دافغانستان او پاکستان ترمنځ پر ترانزیټ تړون د عمل کولو د پرېکړې هر کلی وکړ.
دغه تړون تېر کال په اسلام اباد کې د امریکا د بهرنیو چارو د وزیرې هیلـرې کلنټن په شتون کې د افـغـانسـتـان او پاکستان د بـهـرنـیـو چارو وزیـرانـو لاسلیک کړی و.
درې ورځې مخکې پـاکـسـتـان تـه د ولسمشر د سفر پر مهال پرېکړه وشوه، چې پر دغه تړون به د غبـرګـولـي لـه ۲۲مې عمل کول پیلېږي.
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویـانـد مارک ټونر تېره شپه په واشنګټن کې د یوې خبري غونډې پر مهال ویـل، چې هېواد یې د اسلام اباد د اعلامیـې او پرېکړې هر کلی کوي.
هغه زیاته کړه، چې له دې پـرېـکـړې سره به د دواړو هـېـوادونـو تـر مـنـځ پرمختګ او خوشحالي رامنځتـه او د سولې پـه لاره کـې بـه مـهـم رول ولوبوي.
د سرچینې په وینا، د تـرانـزیـټ دغـه تړون د لسګونو کلونو د هڅو په پایلو کې لاسلیک شوی او دا به د هغه تړون ځای نیسي، چې په ۱۹۶۵ زېږدیز کال کې د یادو دواړو هېوادونو تـر مـنـځ لاسلیک شوی و.

پاتې ۳ مخ

ولسي جرګه د ځانګړې محکمې د احتمالي پرېکړې، سخته اندېښمنه ده

کابل، رسنۍ:
ولسي جرګې یوځل بیا د تیر کـال پـه ټاکنو کې د شویو درغلیو او سرغړونو په اړه د جوړې شـوې ځـانـګـړې محکمې پرممکنـه پـرېـکـړې ژوره اندېښنه څرګنده کړه، خو مـعـتـرض کاندیدان بیا وایـي چـې ځـانـګـړې محکمه به په راتلونکو پنـځـو شـپـږو ورځو کې خپله وروستـی پـرېـکـړه اعلان کړي.
وکیلانو (د غبرګولی پـه ۲۳ مـه) پـه عمومي غونډه کې د تیر کال په ټـاکـنـو کې د شویو درغلیـو او سـرغـړونـو د

پاتې ۳ مخ

د پاکستان پر پوځ د خلکو انتقادونه مخ پر ډېرېدو دي

د مې میاشت د پاکستان د پوځ لپاره له جنجالـه ډکه میاشت وه.لومړنـی پېښه د مې په دوهمـه د امـریـکـا د کـومـانـډو ځواکونو په وسیلـه پـه ایبټ اباد کې د پوځ د یوې مهمې اکـاډیـمـی ترڅنګ د الـقـاعـده شبکې د مشر اسامه بـن لادن پر خوندي کـور حـمـلـه وه چـې د پاکستان د پوځ له مـالـومـاتـو پـرتـه ترسره شوه.
ورپسې په کراچی کې د پاکسـتـان د سمندري ځواک پر اډې د مې د دوه ویشتمې نېټې برید و چـې شـپـاړس

پاتې ۴ مخ

مناسبات بحرانی اسلام آباد و واشنگتن
صفحه دوم

یوازې یو نه؛ بلکې ټول دوه مخې لوبه کوي

فدا محمد فایض

د ۱۳۹۰ د غبرګولي پر شپږمه (د ۲۰۱۱ د مـې ۲۷) د امریکا د بهرنیو چارو وزیره هیلری کـلـنـټـن پـه داسې حال کې چې د لویو درسـتـیـزانـو د ګـډې کومیټې مشر امیر البحر مایک مولن یې هم ملګرتـیـا کوله، پاکستان ته سفر وکړ. په دې سفر کې خـو بـه حتماً څه پټې خبرې هم مطرح شوې وې، چې ویـل کېږي میرمن کلنټن پاکستاني لوري ته یو لسـت هـم وسپاره چې د ایمن الظواهري او سراج الدین حقاني په شمول، امریکا ته د یو شمېر مطلوبو کسانو نومونه پکې وو او دا یې وویل چې امریکا پر دې بـاور ده چې دا کسان په پاکستان کې پټ دي. د رسـنـیـو د رپوټ له مخې، د هیلري کلـنـټـن او آصـف عـلـی زرداري دا کتنه ډېره بېخونده وه او د امـریـکـایـي لوري پر شونډو هغه پخوانۍ همیشنۍ موسکا نه لیدل کېده؛ خو په خبري کـنـفـرانـس کـې چـې جـیـو تلویزیوني چینل په ژوندۍ بڼه خپور کړ، بیا د میرمن کلنټن لهجه لږ څه نرمـه وه او دایـې وویـل چـې پاکستان ددوی ملګری دی او په اصطلاح د تروریزم په وړاندې یې تر ټولو زیاتې قرباني ورکړي دي او د دواړو لوریو پر اړیکو یې ټینګار وکړ.
خبره داده چې پاکستان پر دې تـورن دی چـې همیشه دوه مخې لوبه کوي، زه په دې کې شک نـه ګڼم چې پاکستان همیشه دوه مخې لـوبـه کـړې او کوي یې خو زه وایم اوسنی سیاست دا کـه پـه هـر هېواد کې وي، ددوه مخي توب نوم دی. څوک لـه خپل اولس سره درواغ وایي او څـوک لـه نـورو هېوادو سره او څوک په دواړو برخو کې له درواغـو کار اخلي؛ کوم واکمن له خپل اولـس سـره ریـښـتـیـا وایي؟ کوم سیاستوال له خپلو خلکو سره ریښتیا وایـي؟

پاتې درېیم مخ

کارشناسان افغان تاکید کردند:

اعزام نیروهای سیا به افغانستان، زمینه‌ساز جنگ اطلاعاتی در منطقه است

خبرگزاری فارس: کارشناسان افغان با بررسی تصمیم امریکا مبنی بـر اعـزام ۸۰ نیروی اطلاعاتی به افغانستان، ایـن اقدام را تغییر شیوه جنگ از نظامی بـه اطلاعاتی خواندند و آن را زمینـه سـاز جنگ اطلاعاتی در مـنـطـقـه بـیـان مي کنند.
بـه گـزارش فـارس، درحـالـی کـه چانه‌زني‌ها بر سر انعقاد و یا رد پیـمـان استراتژیک میان افغانستان و امـریـکـا ادامه دارد و ۲ کشور در واشـنـگـتـن و کابل سرگرم تدوین مفاد این پـیـمـان هستند، رسانه‌های غربی از اعـزام ۸۰ تن از افسران اطلاعاتـی امـریـکـا بـه افغانستان خبر دادند.
با آن که به ظاهـر عـلـت اعزام ایـن نیروها، جلوگیری از نفوذ طالـبـان بـه درون ارتش و پولیس این کشور اعلام شده است، اما صاحب‌نظران سـیـاسـی افغان این اقدام امریکـا را تـحـریـک برانگیز مي‌خوانند.

بقیه در صفحه ۴

تلفات نظامی فرانسه در افغانستان به ۶۱ تن رسید

فرانسه، رسانه ها:
با کشته شدن دو نظامی فرانسوی بـر اثر سقوط هلیکوپتر در افـغـانسـتـان، شمار نظامیان فرانسوي کشته شده در این کشور جنگ‌زده به ۶۱ نفر رسید.
با کشته شدن دو نظامی فرانـسـوی در روز گذشته، شمار نظامیان فـرانـسـوي کشته شده در افغانستان از سال ۲۰۰۱ یعنی از ابتدای حضور آنـهـا در ایـن کشور تاکنون به ۶۱ تن رسید.
بنا بر اعلام وزارت دفاع فرانسه، ایـن نظامیان فرانسوی روز گـذشـتـه در سانحه سقوط یک هلیکوپتر عملیاتی در بیست کیلومتری "بـگـرام " در افغانستان کشته شدند.
بنا بر اعلام مقامات فرانسوي، با کشته شدن این نظامیان فـرانـسـوي، شـمـار

بقیه در صفحه ۳

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

سوله او جنگ متضادې کليمې

سوله او جنگ داسې دوه متضادې کليمې دي چې کله هم سره نـه شي يوځای کېدلې.

چېرته چې سوله وي هلته بيا جنگ ځای نه لري او چېرته چې جنگ وي هلته بيا سوله نه وي، د دواړو ترمنځ د آسمان او ځمکې هومره لوی توپير دی. د سولې په ژوند کې امن، آرامي، خوښي، ښيرازي، مينه، الفت، پرمختگ او آبادي وي، خو برعکس په جنگ کې هر لورې د تباهي او وحشت زړه بوږنوونکی منظرې وي، د وينو ويالې او آهونه وي، سلگۍ او اوښکې وي، غمونه او دردونه وي، غربت او لوږه وي، ويره او ترهه وي، شقاوت او بدبختي وي، ناپوهي او بداخلاقي وي، جبر او ظلم وي، بې رحمي او بې باوري وي، بې خوبي او بې خوندي وي، لنډه يې دا چې انسان د الله جل جلاله له هغو ټولو پيرزونو او نعمتونو بې برخې وي چې پرې پيرزو کړی. لوی الله جل جلاله سوله خوښه کړې او جنگ يې په کلکو ټکو غندلې، سولې ته خير او عبادت، جنگ ته شيطاني کار ويلي دي.

ځکه خو احکم الحاکمين الله پخپل کتاب قرآن کريم کې مؤمنانو ته په ښکارندو ټکو کې د امر په صيغه فرمايلي دي چې له څه شک پرته مؤمنان پخپلو کې ورونه، ورونه دي کله چې په جگړه کې اخته شي نو دهغوی په منځ کې سوله وکړئ. له دغه مبارک آيت څخه د سولې اهميت او د جنگ بدوالې په گوته کېږي، که جنگ ښه شی وای نو الله جل جلاله به د جنگ د رېښو د ويستلو لپاره د سولې پر راوستو کلک ټينگار نه و کړې، موږ به ډېره ستره گناه او لويه سرغړونه کړې وي چې د خپل خالق او مالک خبره له پامه وغورځوو هغه څه چې موږ لپاره يې خوښ کړي او دهغه د قايمېدو امر يې کړې دی هغه رد او پرځای هغه څه خپلې سينې ته راجوخت کړو چې له هغه په کلکه د ځان ساتلو حکم يې کړې دی.

د الله رسول محمد صلی الله عليه وسلم مسلمان ته کنځلې کول فسق او وژلو ته کفر ويلي دي، يو رښتونی مؤمن څنگه د دومره لوی گناه د ارتکاب جرئت کولې شي چې د فسق او کفر دا دواړه نومونه ځانته خپل کړي؟ خپله دنيا هم خرابه کړي او آخرت هم، په دنيا کې هم خپل خوږ او قيمتي ژوند و باروتو په لمبو او لوخړو کې تېر کړي او آخرت کې هم د دوزخ د اور خاشاک شي.

الحمدلله د افغانستان مطلق اکثريت مسلمانان دي او د اسلام له سپېڅلي دين سره د نړۍ له بل هر چانه زياته مينه لري، دوی ته د سالمې روزنې او سالمې لارښوونې ضرورت دی، او دا ستر هدف هله ترلاسه کېدلې شي چې په هېواد کې د سولې او ثبات خوږه فضأ قائمه شي او ټول افغانان پخپلو کې يو بل ته د سولې او ورورولي لاسونه ورکړي.

دا واقعيت بايد درک کړو چې خپلمنځي جگړو او اختلافاتو د افغانانو ټول معنوي او مادي ارزښتونه مخکې هم له منځه وړي دي او وروسته به يې هم وړي، ځکه چې جگړه په ځنگله کې دهغه لگيدلې اور په څېر ده چې وچ او لانده پکې دواړه يو ډول سوځېږي.

که خپلمنځي جگړو او اختلافاتو ته د پای ټکې کېښودل شي، که د جنگ تورې او ترخې لوخړې د سولې د خوږې فضاء په خپرولو سره ختمې نکړی شي نو د جنگ له لارې دين، خاوره او ولس ته هېڅ گټه نشي رسيدلې.

که الله مکړه د پخوا په څېر د سولې پر ځای د جگړې او اختلاف لاره پرمخ بوتلی شي نو ددې حتمي معنا داده چې موږ افغانانو د الله جل جلاله او دهغه د رسول محمد صلی الله عليه وسلم احکامو ته شاه اړولې او په دې توگه د هغه په ناراضه کولو دهغه غضب ته بلنه ورکوو، راځئ لدې وروسته د جگړې او اختلاف پر ځای د سولې هغه لاره ټينگه کړو چې الله او دهغه رسول ورته خير ويلي دي او دهغه د خپلولو حکم يې کړې دی.

محترم علماء، استادان، ليکوالان، سپين ږيری، اديبان او شاعران ستر مسؤوليت لري چې د افغانستان ولس د سولې له ضرورت ثواب او اهميت نه خبر کړي، پر گټو يې رڼا واچوي د خپلمنځيو جگړو له دنياوي او اخروي تاوانو څخه يې خبر کړي، له سولې نه د انکار او بې اعتنايي عواقب دې ورته وځېړي او په دې حقيقت دې ښه پوه کړي چې په سوله کې د الله رضا خوشالي، برکت، پرمختگ، قوت، استقامت او نورې زياتې گټې رانغښتل شوي او په جنگ کې د الله قهر، غم، ذلت، غلامي، پريشاني، فقر، بدبختي او کړاوونو پرته بل څه نشته. موږ ته نه ښايي چې د الله تعالی د رضا د ترلاسه کولو پر ځای دهغه قهر او غضب ته بلنه ورکړو او پدې ترتيب د دنيا او آخرت نعمتونه له لاسه ورکړو.

مناسبات بحرانی اسلام آباد و واشنگتن

اعزامی

پس از قتل اسامه بن لادن رهبر القاعده در شهرک ایبت آباد، در نزدیکی پایتخت پاکستان توسط کماندوهای امریکایی، روابط دوستانه و تنگاتنگ اسلام آباد و واشنگتن به تیرگی گرائیده و مقامات هر دو کشور یکدیگر را عامل این تیرگی می دانند بارک اوباما رئیس جمهور ایالات متحدهٔ امریکا با وجود اظهار امتنان از همکاری پاکستان در دریابی رهبر القاعده و فراهم سازی زمینه قتل او، در اولین بیانیه رسانه یی اش حین اعلان قتل اسامه، از همکاری های پاکستان در مبارزه علیه دهشت افگنی نیز یادآور شد، ولی با گذشت چند هفته ازین ماجرا، مطبوعات و رسانه های امریکایی ضمن تبصره بر قتل اسامه،

شک و تردیدهای زیادی را درین راستا مطرح کرده اند. هفته گذشته سناتور جان کری رئیس کمیسیون روابط خارجه مجلس سنای امریکا، با عجله وارد منطقه شد و قبل از مسافرت به پاکستان نخست وارد شهر مزار شریف گردید و در مورد همکاری پاکستان در مبارزه علیه تروریزم ابراز شک و تردید کرد. آقای کری که پس از ماجرای قتل رهبر القاعده بار دوم به منطقه سفر کرد، ضمن صحبت با خبرنگاران گفت: در حال حاضر پاکستان باید سوالات زیادی را در پیوند با مبارزه علیه هراس افگنی پاسخ بگوید و صداقتش را درین مبارزه ثابت نماید، وی گفت ما خواهان پاکستانی هستیم که در ادعایش صادقانه عمل کند و به منافع ملی افغانستان احترام بگذارد. جان کری گفت اگر نشانی ملا محمد عمر هم در پاکستان پیدا شود، نیروهای امریکایی مانند اسامه با او برخورد خواهند کرد، آقای کری پس از دیدار و گفتگو با مقامات محلی ولایت بلخ، وارد کابل گردید و در اظهاراتش روابط اسلام آباد و واشنگتن را بحرانی توصیف کرد، تا جائیکه سیاستمداران هر دو کشور خواستار بازنگری همه جانبه روابط با طرف مقابل شده اند.

رسانه های امریکایی به نقل از شماری از اعضای سنای امریکا خبر داده اند که برخی از مقامات پاکستان از محل اختفای اسامه در کشور شان اطلاع داشتند، بناءً واشنگتن باید کمک های ملیارد دالری خود به اسلام آباد را قطع کند. زمانی که جان کری وارد اسلام آباد گردید. وی گفت واشنگتن در پی بهبود روابط با اسلام آباد است، ولی سوال های زیادی وجود دارد که اسلام آباد باید به آنها پاسخ بگوید. کری نخستین مقام عالی رتبه امریکایی است که پس از قتل اسامه به پاکستان سفر می کند و طی اقامتش در اسلام آباد با رئیس جمهور، صدراعظم و فرمانده نیروهای نظامی پاکستان دیدار و گفتگو کرد. از مصاحبه های کابل و اسلام آباد آقای کری هویداست که او در اظهاراتش در اسلام آباد جانب احتیاط را گرفته و در لحن خود نرمش آورد کری در گفتگو هایش از احساسات برانگیخته مقامات لشکری و کشوری پاکستان آگاه شده و بجای تاخت و تاز و استفسار از آنها در مورد محل اقامت اسامه، از آنها درخواست نمود تا از ادامه همکاری های پاکستان علیه تروریزم اطمینان بدهند کری در کنفرانس خبری اش اظهار داشت که من به پاکستان آمده ام تا خلای ایجاد شده در روابط پاکستان و امریکا را پس از حادثه قتل اسامه پر کنم و گلایه های سر زبان ها را پاسخ بگویم. بقول نامبرده بدون شک اخیراً در روابط هر دو کشور تیرگی ایجاد شده، ولی ما تلاش داریم تا این تیرگی را بهبود ببخشیم. آقای کری از همکاری امریکا با پاکستان به اساس قانون کیلی لوکس (با وجود فشارهای روز افزون اعضای کانگرسی مبنی بر توقف) ادامه خواهد یافت نامبرده در مورد مخفی بودن عملیات به محل اقامت اسامه بنا به رعایت احتیاط بخاطر اهمیت مسأله تأکید کرد و گفت حتی جنرال پتریوس از آن اطلاع نداشت. از لحن نسبتاً نرم سخنان جان کری در اسلام آباد، پیداست که مقامات آن کشور نگرانی و احساسات شدید مردم و دولت پاکستان را مبنی بر نقض حاکمیت ملی و عدم رعایت تمامیت ارضی پاکستان، در حمله به کوماندوهای امریکایی محل اقامت اسامه در ایبت آباد، ابراز داشته اند هفته گذشته پارلمان پاکستان طی نشست فوق العاده، صدراعظم، رئیس اداره استخبارات، رئیس عملیات ارتش و معاون پرسونل هوایی را مورد سوال قرار دادند، عده هایی از نماینده گان پارلمان خواهان استعفای رئیس اداره استخبارات شدن و در اخیر جلسه با صدور قطعنامه ای خواهان پایان دادن حملات طیاره های بدون پیلوت امریکایی بخاک پاکستان شدند و گفتند اگر این خواست آنها برآورده نگردد. آنگاه در مورد مسدود کردن راه ترانزیت اکمالات نیروهای امریکایی از طریق پاکستان، تصمیم خواهند گرفت. کاروان اکمالاتی نیروهای امریکایی و ناتو از مسیر پاکستان در سال های اخیر چندین بار مورد حملات شورشیان قرار گرفته و کامیون های مملو از مواد لوژیستیکی مورد نیاز قوای ناتو حریق گردیده اند. نماینده گان پارلمان پاکستان در قطعنامه خود از حکومت خواستند تا یک کمیسیون ویژه به مشوره آقایون گیلانی و نوازشریف تشکیل گردد تا عملیات های شبیه به حمله کماندوهای امریکایی به ایبت آباد بار دیگر تکرار نگردد. نواز شریف رهبر حزب اختلاف در پارلمان پاکستان ضمن انتقاد شدید از عملیات ایبت آباد خواستار بازرسی مستقل در باره چند عملیات امریکا علیه اسامه بن لادن شد. قطعنامهٔ پارلمان پاکستان ضمن انتقاد شدید از عملیات امریکا در ایبت آباد، حاکی است که عملیات های یکجانبه به حذف تروریزم کمک نخواهد کرد و تکرار آن عواقب وخیمی در پی خواهد داشت. قطعنامه از حکومت پاکستان خواسته است که روابط خود را با واشنگتن با توجه به احترام به منافع ملی پاکستان مورد بازنگری قرار بدهد.

بدنبال ماجرای قتل اسامه و سرخوردگی مقامات پاکستان در داشتن آگاهی و یا عدم آگهی از محل اختفای او، پاکستان را در موقف ضعیفی قرار داده است.

اگر آنها بر سبیل معمول بگویند که ما از محل اقامت او اطلاع نداشتیم، پس این سوال پیدا می شود که چگونه ممکن است یک کشور با چنان ساختار استخباراتی قوی و پیچیده سالیان درازی از محل اقامت رهبر القاعده در زیر زنخ نظامیان خود اطلاع نداشته و بدتر از آن از طرح ریزی عملیات انجام یافته علیه او نیز بی خبر بوده است ! و اگر بگویند که از محل اقامت او اطلاع داشتند، پس چرا در جریان ده سال از آن انکار می کردند؟

عده ای از مقامات امریکایی مشتاق روشن شدن این مسئله اند، ولی برخورد احساساتی و تند پارلمان و حکومت پاکستان باعث گردیده که واشنگتن درین هنگامیکه برای رسیدن به اهدافش هنوز به همکاری پاکستان ضرورت دارد، از مدارا کار بگیرد در صورت بی اعتمادی احتمالی واشنگتن به اسلام آباد، مقامات پاکستانی هم آمادگی خود را از قبل گرفته اند، چنانچه متعاقب ماجرای عملیات ایبت آباد آصف علی زرداری راه مسکو را در پیش گرفت و رضا گیلانی راه بیجنگ را، تا در صورت قطع کمک های ملیارد دالری سخاوتمندانه امریکا به اسلام آباد، خلای در بودجه و انکشاف اقتصادی پاکستان محسوس نباشد کشورهای روسیه و چین در مستوای بین المللی و منطقوی، دو قدرت رقیب ایالات متحده امریکا به شمار می روند که در سال های اخیر، اختلافات سابقه خویش را کنار گذاشته و در چوکات اتحادیهٔ سیاسی و نظامی شانگهای، برای کاستن نفوذ واشنگتن در منطقه مساعی بخرج می دهند و اخیراً پاکستان از آن اتحادیه درخواست نموده تا علاقه پاکستان را به آن اتحادیه نزدیک تر نموده، از موقف ناظر به موقف عضویت ارتقا ببخشد. قبول عضویت پاکستان در اتحادیهٔ شانگهای، ایجاد تحول عظیم در سیاست خارجی آن کشور به شمار می رود. زیرا پس از تشکیل پاکستان در سال ۱۹۴۷ به صفت یک کشور مستقل، برای اولین بار است که اسلام آباد از غرب رو می گرداند.

یوازې یو نه؛ بلکې ټول دوه مخې لوبه کوي

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

د کوم هېواد وکیل خپلو مؤکلینو ته رښتیا وایي؟ او کوم والي او اولسوال یا نور چارواکي خلکو ته رښتیا وایي؟ نننۍ سیاست بې له شکه د منافقت یو بل نوم دی، د خلکو د تېرایستنې یو بل نوم دی، د ریا یو بل نوم دی، نو چې یو څوک له خپل اولس سره رښتیا ونه وایي، له بل هېواد سره به یې څه ووایي!

تاسې وګورئ آیا امریکا یو مخې سیاست چلوي؟ انګلیس، فرانسه او نور اروپایي هېوادونه یو مخې سیاست چلوي؟ ایران، عربي هېوادونه او نور اسلامي هېوادونه یو مخې سیاست چلوي؟ بس هغه د اردو ژبو خبره ده چې:

"په دې حمام کې ټول بربنډ دی" خو هر یو د خپل مخ روڼې لپاره بل ملامتوي او د خپل بام واوره د نورو پر بام وراچوي.

زما په اند نن سبا چې د نړۍ په لر او بر کې او په ځانګړې توګه دربیمه نړۍ کې کوم اور بل دي، د همدغه روان منافقت نتیجه ده، که رښتیا وویل شي، حقیقت ډېر ښه معلومیدای او پیژندل کېدای شي.

زه دا منم چې پاکستان په ځانګړې توګه د افغانستان په برخه کې دوه مخې سیاست چلوي، خو که چېرې امریکا هم له دوه مخې توب نه لاس واخلي، په دې سیمه کې به ډېر ژر امن ټینګ شي.

آیا دا څه چې امریکا د اسامه د مرګ په اړه روان کړي دا ټوله یوه سنجول شوې ډرامه نه ده، سم لکه د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر پېښې چې امریکا د یوه سنجول شوي پلان له مخه ترسره کړې او په دقیقو کې یې دهغې ملامتي پر القاعده ورواچوله او اسامه هم هغه ومنله چې دا کار القاعده کړی دی او که نه؛ هغه ښه پوهېده چې دا کار دده په وس پوره نه دی؛ خو دا چې ولې یې دا مسؤولیت ومانه، دا هم هغه پوښتنه ده چې د اسامه تر مرګ وروسته یې هم ځواب پر خپل ځای پاتې دی. که چېرې دې پوښتنې ته پر حقایقو ولاړ ځواب وموندل شي، ددې ټولې روانې ډرامې له مخه به پرده پورته کړای شي او هر څه به په ډاګه شي.

تاسې وګورئ: آیا امریکا د هغې په خپل تعبیر د تروریزم په ټکونې پسې سیمې ته راغله او که نه دلته د پردې تر شا نورې خبرې دي چې اوس هغه هم ډېری په پرده کې نه دي پاتې او هر څوک پر دې پوهېږي چې غوا توره ده او پی یې سپینې!

عراق ته په راتلو چې امریکا کوم دلایل وویل، هغه ټول دروغ وختل او ان چې پخپله یې هم پر خپلو دروغو اعتراف وکړ؛ نه صدام حسین له، القاعده سره اړیکې لرلې، نه یې بیالوژیکي او کیمیاوي وسلې لرلې بلکه څه یې چې لرل او د امریکې ورته اړیتا وه هغه نفت و او د سرو زرو ذخیرې چې چور تالان پرې ګډ شو.

همدارنګه پر پاکستان سربېره زموږ یو شمېر نور ګاونډیان هم سپین بازان نه دي، دهغوی وسلې هم په افغانستان کې ونیول شوې او له دې نه ور اخوا یې په افغانستان کې له مختلفو مذهبي او قومي ډلو او ګوندونو سره داسې اړیکې ټینګ کړي چې دهغوی له لارې یې افغانستان تر ژبنی، فرهنګي او سیاسي یرغل لاندې نیولی دی؛ دغو ډلو په هېواد کې د تصویري، چاپي او غږیزو رسنیو له لارې دهغوی فرهنګ ته د خدمت ملا تړلې ده، پر خولو یې دهمغوی تر میالوژی ده او ان چې په خپله ژبه شرمېږي، او په افغانستان کې خو داسې مسؤوله مرجع نشته چې ددغو خپلسریو مخه ونیسي.

کله چې د دوستۍ خبره شي نو همدغه ګاونډیان تر ټولو دمخه د افغانستان د دوستۍ ډېرې پر سینه وهي، خو د پردې تر شا ګیا دی افغانستان ته ګندې وباسي هغه د عبدالرحمن بابا خبره چې:

زه دا هسې دیوانه او مجنون چا کړم
له رواجه له رسومه بیرون چا کړم

موږ خو اور له همغو هېوادو نه واخست چې پر خوله یې یو څه دي او په زړه کې یې بل څه دي؛ نو دلته ګورو چې سر تر پایه دوه مخې روانه ده همیشه یې پر خولو یې یو څه وي او په زړونو کې یې بل څه، په افغانستان او سیمه کې چې دا کوم غوبل روان دی، دا ټول د منافقت او دوه مخې پالیسی نتیجه ده چې د ماکیاول له سیاسي فلسفې او تګلارې نه سرچینه اخلي؛ نه اعتقاد پیژني، نه انساني او اخلاقي ارزښتونه او د نړۍ زورور هېوادونه خو بیا د فرعونیت پر ځلې هم ناست دي او له هغه ځایه پر بېوزلو هېوادونو حکم چلوي.

ایکن بیري له دولت سره ...

لري دوام لري.

کارل ایکن بیري په داسې حال کې، چې په افغانستان کې یې د امریکا د سفیر په توګه ماموریت پای ته رسېدو په حال کې ده، د کابل پوهنتون یو شمېر محصلینو او استادانو ته یې د خبرو په ترڅ کې وویل: "افغان ولسمشر رښتیا ویل، چې موازي نهادونه باید له منځه یوړل شي، خو دا زموږ ستونزه وه، چې پام مو ونه کړ."

همدارنګه نوموړي وویل، چې د ولایتي بیارغونې ډلې په ۲۰۰۲ زېږدیز کال کې له افغان حکومت سره د مرستې لپاره، چې هغه مهال کمزوری و، جوړې شوې او دا مهال دولتي جوړښتونه تقویه شوي دي، نو موازي جوړښتونو ته اړتیا نشته.

هغه زیاته کړه، چې له افغان دولت سره د موازي جوړښتونو له منځه وړل به له نړیوالو ځواکونو نه افغان ځواکونو ته د مسوولیت د لېږد په پروسه کې مرسته وکړي.

په ننۍ ناسته کې د پوهنتون یوه محصل ایکن بیري ته په خطاب کې وویل، چې په افغانستان کې مېشت بهرني ځواکونه ملکي خلک وژني او د خلکو د خورونې لامل ګرځي.

همدارنګه نوموړي څرګنده کړه، چې بهرني ځواکونه په دې نه دي توانېدلي، چې امنیت په افغانستان کې ټینګ کړي.

ایکن بیري په ځواب کې وویل، چې بهرنیو ځواکونو تېروتنې درلودې او دغه تېروتنې د دې لامل کېږي، چې ورڅخه تجربه واخیستل شي او له تکرار څخه یې مخنیوی وشي.

ایکن بیري محصلینو ته په خطاب کې وویل: "تاسې د دغه هېواد راتلونکي مشران یاست، هیله لرم چې موږ له هغو ترهګرو سره پرتله نه کړئ، کوم چې د جلال اباد د کابل بانک په څانګه کې ملکي وګړي وژني."

ایکن بیري ۹ کاله مخکې د لوړ پوړي پوځي چارواکي په توګه افغانستان ته راغی او له دوو کلونو راهیسې په افغانستان کې د امریکا د سفیر په توګه دنده ترسره کوي.

پخواني امریکایي ډیپلوماټ ریان کروکر په افغانستان کې ایکن بیري پر ځای ګومارل شوی دی.

ستانکزی: پاکستان برای ...

مصالحه می باشند هموار است. دوم، این پیام هم به آنانی که جنګ را یګانه راه رسیدن به اهداف خود می دانند می رسد که دیګر برای جنګ پناه ګاه های امن نخواهند داشت."

پاکستان خود تا حال به طور رسمی در این مورد چیزی نګفته است که آیا نیروهایش عملیات را بر ضد طالبان افغان آغاز می کند یا نه. حکومت پاکستان تا حال این خبر را هم تایید نکرده است که ګویا با حکومت افغانستان به توافق، دست یافته است.

در اعلامیه، چهار صفحه یی مشترک افغانستان و پاکستان در مورد حمله نیروهای پاکستانی بر طالبان مستقر در آن کشور چیزی ګفته نشده، ولی فرحت الله بابر سخنګوی حکومت پاکستان ګفته است: پاکستان از خاک خود اجازه حملات بر افغانستان را نخواهد داد.

بابر ابراز داشت که پاکستان دایم ګفته است که اجازه نمی دهد از خاک اش برای حملات بر کشورهای دیګر استفاده ګردد.

ولسي جرګه د ځانګړې...

څېړلو په خاطر د جوړې شوې ځانګړې محکمې د کړنو او د ممکنه پرېکړې په اړه خپله جدي اندېښنه په ډاګه کړه. د ولسي جرګې غړی سمیع الله صمیم وویل چې وکیلان باید په خپلو پرېکړو او ژمنو کې ټینګ واوسي او پرې نه ږدي چې ځانګړې محکمه یو وکیل هم له جرګې څخه وباسي، دیموکراسي تر پښو لاندې کړي.

سمیع الله صمیم زیاته کړه چې دقیق راپور لري چې ځانګړې محکمې له پنجشیر څخه پرته نور د ټولو ولایتونو د بریالیو کاندیدانو په لیست او رایو کې د پام وړ بدلونونه راوستي دي.

د ولسي جرګې غړې فاطمې عزیز وویل، حکومت دغه ځانګړې محکمه د فشار په توګه پر وکیلانو تپلې، خو وکیلان باید نور د دغې محمکې له هیڅ راز پرېکړې ونه ویرېږي کنه حکومت زوروربږي.

په همدې حال کې د ولسي جرګې غړی احمد شاه رمضان وایي، د وکیلانو د بې وجدانۍ، نه پاملرنې او د خپلو پرېکړو د نه ملاتړ له امله د دوی غړ نه حکومت اوري اونه وزیر.

خو د تېرکال په ټاکنو کې معترض کاندید داود سلطانزوی وایي، ځانګړې محکمې خپلې څېړنې پای ته رسولي او په راتلونکو پنځو - شپږو ورځو کې به خپله پرېکړه د یوې لویې قضایي غونډې په ترڅ کې اعلان کړي.

دا په داسې حال کې ده چې د یو شمېر وکیلانو په وینا ولسي جرګې د یادې ځانګړې محکمې له ویرې خپلې دوبنۍ یوه نیمه میاشت رخصتۍ پنځلس ورځې په دې پلمه ځنډولې چې سرپرستو وزیرانو ته د باور رایې ورکوي. حکومت د ولسي جرګې غړیو ته ویلې چې ښغمه خپله دوبنۍ رخصتۍ واخلي، کېدای شي چې وزیران له رخصتۍ وروسته د باوررایې د ترلاسه کولو لپاره ورمعرفي کړي.

تلفات نظامی فرانسه در ...

تلفات نظامي فرانسه در افغانستان از زمان استقرار نظامیان این کشور در افغانستان در سال ۲۰۰۱ تاکنون، به ۶۱ نفر رسیده است.

فرانسه به عنوان چهارمین مشارکت کننده و تأمین کننده نیروي نظامي در جنګ افغانستان در حال حاضر سه هزار و ۷۰۰ نظامي خود را در افغانستان مستقر کرده است.

این در حالیست که مقامات فرانسوی بارها و بارها اعلام کرده‌اند که فرانسه دیګر قصد افزایش شما نظامیان خود در افغانستان را ندارد.

امریکا پر ترانزیټ ټرون...

د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت ویاند وویل، چې له دغه ټرون سره به د افغانستان او پاکستان ترمنځ سوداګریزې او سیاسي اړیکې نورې هم پیاوړې شي.

د سرچینې د معلوماتو له مخې، د دغه ټرون له برکته به دواړه هېوادونه نړیوالو مارکېټونو ته لاره پیدا کړي او اقتصاد به یې ورسره پیاوړی شي.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سوداګری او ترانزیټ پخوانی ټرون کابو ۴۵ کاله مخکې لاسلیک شوی و؛ خو له دې امله، چې دغه ټرون له اوسنیو شرایطو سره اړخ نه لګاوه، تېر کال د لرم په میاشت کې نوی ټرون لاسلیک شو.

د نوي ټرون پر بنسټ، د نورو سوداګریزو او ترانزیټي اسانتیاوو ترڅنګ د افغان او پاکستانیو سوداګرو موټر کولای شي د دواړو هېوادونو بندرونو ته تګ راتګ وکړي.

د یاد ټرون تر لاسلیکولو مخکې هم، پاکستاني موټر د افغانستان بندرونو ته راتلای شوای، خو د افغان سوداګرو موټرو ته یواځې د پاکستان تر پېښور ښار پورې د تګ راتګ اجازه ورکول کېده.

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د معلوماتو له مخې، افغانستان او پاکستان په کال کې د شاوخوا ۱،۵ میلیارد ډالرو په ارزښت سوداګري لري او په کال کې د هغه هېواد له لارې د افغانستان ترانزیټ کچه هم شاوخوا ۱،۵ میلیارد امریکایي ډالرو ته رسېږي.

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(شلمه برخه)

س ۳۵۳: څه وخت د لومړي ځل لپاره د پیغمبر علیه السلام په مسجد کې چراغ رڼا شو؟

ځ: د عمر رضي الله عنه په خلافت کې د لومړي ځل لپاره په نبوي جومات کې چراغ رڼا شو.

س ۳۵۴: چا لومړی په نبوي جومات کې چراغ رڼا کړ؟

ځ: تمیم داري لومړی سړی وه چې دا کار یې و کړ.

س ۳۵۵: کله د جمعې لمونځ په یو ولایت کې په مختلفو او متعددو ځایونو کې و شو؟

ځ: سیوطي لیکلي چې د لومړي ځل لپاره د جمعې لمونځ د خلیفه (معتضد) په خلافت کې په ۲۸۰ کال کې په بېلا بېلو ځایونو کې اداء کړی شو، د دې نه مخکې په اسلام کې د جمعې لمونځ په یو ولایت کې په مختلفو ځایونو کې شوی نه و. دا خطیب بغدادي هم د بغداد په تاریخ کې یاده کړې، او د جمعې لمونځ به په دار الخلافه کې کیده، جومات ورته ودان شوی نه و. د مسجد د نه جوړیدو وجه دا وه چې خلیفه په عامو مساجدو کې پر خپل ځان وریده، بیا د خلیفه مکتفي په زمانه کې د جمعې د لمانځه لپاره جومات جوړ شو.

س ۳۵۶: چا د لومړي ځل لپاره قاریانو ته خوراک حواله کړ؟

ځ: ولید د عبد الملک زوي لومړی کس و چې دا کار یې و کړ.

س ۳۵۷: چا په اسلام کې د لومړي ځل لپاره عشر راټول کړ؟

ځ: زیاد د جریر زوي چې عمر رضي الله عنه د سواد ځمکې ته چې د بصرې نه تر عبدانه اوږده پرته ده، په دې موخه لیږلی و چې عشر یې راټول کړي.

س ۳۵۸: چا لومړی زکات په خپله خوښه ورکړ؟

ځ: د بني عذره کلې یا قبیله لومړي خلک وو چې زکات یې په خپله خوښه ور کړ.

س ۳۵۹: چا لومړی کعبې شریفې ته قباطي (قبطیانو ته منسوبې جامې دي) واغوستې؟

ځ: عمر بن خطاب رضي الله عنه.

س ۳۶۰: چا د لومړي ځل لپاره د عمره کوونکو د سهولت په موخه د مکې په کوڅو کې د اور لګولو او چراغونو رڼا کولو امر و کړ؟

ځ: عمر بن عبد العزیز لومړی کس و چې دا کار یې و کړ.

س ۳۶۱: چا لومړی په حرم کې د طواف کوونکو لپاره چراغونه رڼا کړل؟

ځ: عقبه د ازرق زوي او د عمرو لمسي د لومړي ځل لپاره د طواف کوونکو لپاره په حرم کې چراغونه بل کړل.

س ۳۶۲: چا لومړی په مدینه منوره کې په حدیثو کې کتاب ولیکه او د بابونو په اساس یې ترتیب کړ؟

ځ: امام مالک د انس زوي لومړی شخص و چې دا کار یې و کړ.

س ۳۶۳: چا لومړی په خراسان کې په حدیثو کې کتاب ولیکه او د بابونو په اساس یې ترتیب کړ؟

ځ: عبد الله د مبارک زوي لومړی شخص و چې دا کار یې و کړ.

س ۳۶۴: چا لومړی په مکه کې په حدیثو کې کتاب ولیکه او د بابونو په اساس یې ترتیب کړ؟

ځ: د جریح زوي رضي الله عنه لومړی شخص و چې دا کار یې و کړ.

س ۳۶۵: چا لومړی په بصره کې په حدیثو کې کتاب ولیکه او د بابونو په اساس یې ترتیب کړ؟

ځ: ربیع د صبیح زوي، یا سعید د ابو عروبه زوي، او یا هم حماد د سلمه زوي.

س ۳۶۶: چا لومړی په کوفه کې په حدیثو کې کتاب ولیکه او د بابونو په اساس یې ترتیب کړ؟

ځ: سفیان الثوري لومړی سړی و چې په کوفه کې یې په حدیثو کې کتاب ولیکه.

س ۳۶۷: چا لومړی په شام کې په حدیثو کې کتاب ولیکه او د بابونو په اساس یې ترتیب کړ؟

ځ: اوزاعي لومړی شخص و چې په شام کې یې په حدیثو کې کتاب ولیکه.

س ۳۶۸: چا لومړی په یمن کې په حدیثو کې کتاب ولیکه او د بابونو په اساس یې ترتیب کړ؟

ځ: ابو عبیده معمر بن مثنی لومړی کس و چې په یمن کې یې په حدیثو کې کتاب ولیکه. او ویل کیږي چې د صنعاء په ښار کې یو ځای دی چې د ابو عبیده بن معمر مثنی په نوم یادیږي. و الله اعلم.

س ۳۶۹: چا لومړی په رایه (د ځای نوم دی) کې په حدیثو کې کتاب ولیکه او د بابونو په اساس یې ترتیب کړ؟

ځ: جریر بن عبد الحمید.

س ۳۷۰: چا لومړی په واسط (د ځای نوم دی) په حدیثو کې کتاب ولیکه او د بابونو په اساس یې ترتیب کړ؟

ځ: شیخ هشیم.

(نور بیا)

افغانستان د نړیوالو رسنیو په هنداره کې

فاینښل ټایمز:
فاینښل ټایمز ورځپاڼه لیکي، د ناټو تړون رسمي پالیسی دا ده، چې د وسله والو طالبانو پرضد د جګړې مسولیت تر۲۰۱۴م کال پورې افغان امنیتي ځواکونو ته وسپاري، دا یو نا اعلان شوی هدف نه بلکې یو ضرب الاجل دی. ورځپاڼه لیکي، ښاغلي اوباما ویلي، چې په افغانستان کې د القاعده شبکې تخریبول او ماته ورکول یې اساسي هدف دی، خو د امریکا د استخباراتو مرکزي اداري سي. ای. اې ویلي چې د دې شبکې د فعالانو شمېر په افغانستان کې یوازې پنځوس ته دی، چې دا په پاکستان سومالیا او یمن کې د القاعده د فعالانو په نسبت ډیرلږ شمیر دی.
فاینښل ټایمز وړاندې لیکي، د امریکا حکومت ټینګار کړی، چې د القاعد د بېرته راتګ د مخنیوي لپاره کابل یوه اغیزمن او قوي حکومت ته اړتیالري، چې په خپله له امنیتي ګواښونو سره مبارزه وکړي. په دې ترتیب یو کوچینی هدف د ولت جوړولو پرشکل هم ځرخي. ورځپاڼه لیکي، کله چې ځو ورځې وړاندې د امریکا د ټولو وسله والو ځواکونو لـه لوی درستیز اډمیرال مایک مولن څخه پوښتنه وشوه، چې ایا پروسله والو طالبانو د بریالیتوب لپاره اړتیا ده چې په افغانستان کې پاتې شو " ترسرلیک لاندې یومطلب خپور کړی، چې د پیل په کرښو کې لیکي، افغانستان ته د امریکا د دفاع وزیر رابرت ګېټس د وروستي سفر په ترڅ کې د اسامه بن لادن وژلو په دې هیواد کې

افغان ځواکونو ته امنیتي مسوولیت سپارل هدف نه یو ضرب الاجل دی

افغانستان او پاکستان په خپلو کړو وړو کې بدلون راولي؟ هغه په ځواب کې وویل، تاسو به په امریکایي پوځیانو کې داسې څوک ونه مومی چې په دې باور وي، چې پاکستان به په ریښتوني توګه په شمالي وزیرستان کې د طالبانو پناه ځایونه وځپي او هم به د امریکایي ډیپلوماټانو په منځ کې څوک پیدا نه کړی، چې په دې باور وي، چې د کابل حکومت به د اداري فساد مخه ونیسي.
واشنګټن ټایمز:
واشنګټن ټایمز ورځپاڼې د افغانستان په اړه "ولې باید زموږ د ماموریت د راتلونکې په اړه لـه امریکایي ځواکونو سره ډیرې پوښتنې راپورته کړې دي.
ښاغلی ګېټس د بن لادن وژلو ته په پام سره په دې اړه ښکاره دریځ څرګند کړ او په بیره یې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د ایستلو په وړاندې خبرداری ورکړ.
خو اداره باید د ګیټس له دغه دریځه دفاع وکړي چې ولې باید ځواکونه په دې هیواد کې پاتې شي.
د واشنګټن ټایمز له دې لیکنې سره سم، د بن لادن مړینې په هغه ګواښ کې کوم کمی نه دی راوستی، چې د افغانستان او پاکستان د پولې په اوږدو کې په قبایلي سیمو کې سخت دریځو وسله ولو امریکا ته متوجه کړی دی. دا چې پاکستان د دې وړتیانه لري یا نه غواړي، چې زموږ د خطرناکو دښمنانو په وړاندې اقدام وکړي دا ښایي دومره د اندیښنې وړ خبره نه وي بلکې دې حقیقت ته په پام سره چې بن لادن په تیرو شپږو کلونو کې په پاکستان کې راحت ژوند کاوه، دا مساله زموږ لپاره ډیره د اندیښنې وړ ده.
د ورځپاڼې په وینا د بن لادن وژل پرالقاعده یوسخت ګذار و خو هغه داسې یو ګزارنه و، چې دا شبکه په ګونډو کړي. القاعده نور سرسپارلي مشران هم لري، چې ښه روزل شوی او په کمې رهنمایی کولای شي عملیات وکړي، چې ډېر سرتیري پلویان هم لـه ځان سره لري.
د ورځپاڼې په وینا القاعده به ډیره مخکې دړې وړې شوې وای که غړیو یې ډېرژر ناوړه حالت قابو کړی نه وی.

۲۴۰ سرباز ناتو طی سال روان میلادی کشته شده است

کابل، پژواک:
ناتو از کشته شدن یک سرباز شان درجنوب افغانستان خبر داد، که با قتل این سرباز، شمار عساکر کشته شدهٔ ناتو در سال روان میلادی، به ۲۴۰تن رسید.
در یک اعلامیه که از طرف دفتر مطبوعاتی نیروهای آیساف به رهبری ناتو در کابل، به تاریخ ۲۳جوزا به آژانس خبری پژواک ارسال گردیده، گفته شده است که این سرباز شان روز گذشته در نتیجهٔ درگیری با مخالفین مسلح در جنوب افغانستان کشته شده است.
اما منبع، هویت سرباز کشته شده و محل دقیق رویداد را مشخص نکرده است.
باید گفت که در جنوب، شمار زیادی عساکر بریتانوی و امریکایی آیساف، مستقر میباشند.
شمار عساکر کشته شدهٔ ناتو در مناطق مختلف افغانستان طی سال روان میلادی، به ۲۴۰تن رسید، که ۱۷۰تن آنها امریکایی هستند.

امریکایي چارواکي له افغانستانه د ځواکونو د ایستلو په باب مختلف نظرونه لري

تاند ویبپاڼه:
د امریکا د ماساچوسیت ایالت پخواني ګورنر میت روني او په کانګریس کې د ټکساس استازي ران پال له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د ایستلو له پروګرام سره مخالفت وکړ.
روني تېره شپه د جمهوري غوښتونکي ګوند په ریاستي مناظره کې وویل چې له افغانستانه ځواکونه باید له هغه مهالویش سره سم وایستل شي چې په دې هیواد کې یې ډېره امریکایي قومندانان او جنرالان شرایطو ته په کتو سره ټاکي. د اسوشیټیډ پریس خبري اژانس د راپور له مخې ده وویل چې امریکایي پوځیان باید له افغانستانه ژر تر ژره ووځي خو پکار ده چې لومړی هغه شرایط رعایت شي چې یادونه یې وشوه. خو د کانګریس غړي ښاغلي پال د روني خلاف وویل ولسمشر اوباما باید جنرالانو ته ووایي چې څه وکړي.ده وویل، که دی ولسمشر وي باید ژر تر ژره له افغانستانه پوځیان وباسي.
پال د افغانستان جګړه بې هدفه وبلله، ویې ویل چې د امریکا متحد ایالتونه په افغانستان کې د جګړې لپاره هیڅ هدف نه لري.
له بلې خوا د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې د اوباما حکومت په دې پلان کار کوي چې په راتلونکو دوولسو تر اتلسو میاشتو کې له افغانستانه دېرش زره حربي ځواکونه وباسي خو په دې برخه کې قوماندانانو ته واک سپاري چې څومره سرتېري باید په څومره سرعت یا وخت کې وایستل شي.

د پاکستان پر پوځ د خلکو...
ساعته یې دوام وکړ، لس پوځیان او څلور سخت دریځي پکې ووژل شول.
دې مسلې چې د پاکستان پوځ ونه کړای شول داسې مهم او کلیدي پوځي مرکز وساتي، د ډېرو لپاره پوښتنې پیدا کړې.
د مې په نهه ویشتمه خبریال سید سلیم شهزاد وتښتول شو.نوموړی په مرکز اسلام اباد کې لږ وروسته له دې برمته شو چې د کراچې د حملې په اړه یې یو تحقیقي راپور خپور کړ.شهزاد په دې تحقیق کې تور لګولی وو چې په کراچۍ کې د پاکستان د سمندري ځواک په اډه کې جګړه د پوځ او القاعده ترمنځ د پټو خبرو له ناکامېدو وروسته نښتې وه.
له دې راپور څو ورځې وروسته شهزاد وویل چې خبرداري ورکړای شوي دي. د ده مړی، چې د شکنجې نښې پرې له ورایه ښکارېدې، له اسلام اباده لېرې وموندل شو.
د شهزاد په قتل کې د تور ګوتې آی ایس آی ته ونیول شوې.
د بشري حقونو فعالان او خبریالان د شهزاد د قتل او د هغه راپور په باب د تحقیقاتوغوښتنه کوي چې په وجه یې ده ته د آی ایس آی له لوري خبرداري ورکړای شوي وو.آی ایس آی دا تور ردوي.
اوس یوشمېر خلک په دې هم انتقاد کوي چې ولې باید د پاکستان ډېرعواید او نړیوالې مرستې پوځ ته په لاس ورشي.
د پاکستان رسنی، د پارلمان غړي او عام خلک پوښتنه کوي چې ولې باید پوځیان پرېماني شتمنی ولري. په اسلام اباد کې مېشت خبریال او ژورنالیست زاهد حسین وایي چې پر آی ایس آی د انتقادونو لپاره ډېر نور موارد هم شته:
"په دې باب چې پیسې چېرې ځي، ډېرې پوښتنې شته.ایا لویې پوځي بودجې په مناسب ډول مصرفېږي؟ په دې ډول پوښتنو نن سبا بحثونه روان دي.په خپله د پوځ په اړه، له دا ډول وضعیت سره د مقابلې په برخه کې د هغه د مسلکي توب په باره کې هم پوښتنې کېږي. په ځانګړي ډول په دې باب پوښتنې کېږي چې پوځ له خپلو مسلکي چارو دباندې نورې معاملې هم کوي."
د دغو پوښتنو په خاطر زاهد حسین په خپله پخوا څورول شوی دی.
حسین په یوه مستند راپور کې، چې نیوزویک مجلې خپور کړی، افشا کړې وه چې د پاکستان پوځ څرنګه شرکتونه او ملکیتونه جوړ کړي چې ورسره یو کم شمېرواکمنو جنرالانو شتمني، قدرت او امتیازونه ترلاسه کړي.
زاهد حسین د دې لیکنې په خاطر د پخواني پوځي ولسمشرجنرال مشرف په خبري غونډو کې له ګډونه منع شو.
د پاکستان د بشري حقونو فعالې او د ښځو مدافع وکیلې اسما جهانګیرخپل ټول عمر د مذهبي اقلیتونو او بې مځکو بزګرو د حقونو لپاره په مبارزې تېر کړی.
د دې هلې ځلې سبب شوي چې د پاکستان د پوځ له مخالفت سره مخامخ شي.د همدې لپاره بندي شوې او یا په کور کې نظر بنده شوې ده.
د دې له لوري ترتیب شوي سوله ییز لاریونونه د پولیسو له مخالفت او تشدد سره مخامخ شوي.
جهانګیر یوه له هغو کسانو څخه ده چې د پوځیانو د شتمن کېدو په باب په لوړ ږغ پوښتنې کوي:
"پوځي جنرالان ټول وخت د ګلف لوبه کوي او بیا په دې باب ږغېږي چې چېرې د کور نومرې واخلي.دوی په کراچۍ کې د سمندري ځواک په اډه کې د واده سالون جوړ کړی و، ما ته وواياست تر اوسه پورې مو اورېدلي چې چا دې په داسې حساس ځای کې د واده سالون جوړ کړی وي."
د پاکستان په کالنۍ بودجه کې چې د جون په دریمه اعلان شوه، یوه لویه برخه یعنې په سلو کې ۲۵ پوځ ته ورکول کېږي.
روغتیا او معارف ته تر پنځو فیصدو هم کمه ځانګړې شوې.
له ۲۰۰۱ څخه امریکا پاکستان ته تر شل ملیارده ډالره زیاته مرسته ورکړې خولویه برخه یې د پوځیانو جېب ته لوېدلې ده.
د پاکستان د امنیتي چارو د کارپوهې عایشې صدیقي په وینا د پاکستان د پوځ د شتمنیو ارزښت تر لس ملیارد ډالرو اوړي.پوځ تر پنځه ملیون هکتاره زیاته مځکه لري.
عایشه صدیقي چې یو وخت د پاکستان په سمندري ځواک کې د تحقیقاتو ریسه وه وایي پوځیانو د سیاسي قدرت په خاطر اقتصادي ګټې ترلاسه کړې خو اوس د دغو اقتصادي ګټو په خاطر، نه غواړي چې سیاسي قدرت له لاسه ورکړي.

اعزام نیروهای سیا به...
با آن که مقامات نظامی و اطلاعاتی امریکا به خوبی می‌دانند که اعزام مأموران اطلاعاتی به افغانستان و فعالیت آنها در داخل ارگانهای امنیتی افغان، از نفوذ طالبان در پولیس و ارتش ملی این کشور جلوگیری نخواهند کرد، اما هدف اصلی اقدام سازمان سیا چیست؟
* امریکا در صدد راه اندازی جنگ اطلاعاتی در منطقه است
رئیس "مرکز مطالعات راهبردی و مشورتی افغانستان " بر این باور است که امریکا در نظر دارد جنگ اطلاعاتی در منطقه راه اندازی کند و این نشان می‌دهد که امریکاییها در صدد تغییر شیوه جنگ در افغانستان و منطقه هستند.
"غلام جیلانی خواک "افزود: نفوذ مخالفان در پولیس و اردوی ملی افغانستان چالش عمده و بغرنجی است ولی این مشکل با اعزام چند کارمند اطلاعاتی خارجی به افغانستان حل نخواهد شد.
* جنگ اطلاعاتی از درون پایگاه های نظامی هدایت می‌شود
رئیس مرکز مطالعات راهبردی افغانستان خاطرنشان کرد: هدف اصلی امریکا ایجاد پایگاه نظامی در افغانستان است و این پایگاه‌ها تمام فعالیت‌ها را جهت داده و حیطه فعالیت‌ها را مشخص خواهد کرد و جنگ اطلاعاتی مورد نظر امریکا از همین پایگاه‌ها هدایت خواهد شد. وی با اشاره به این که مردم افغانستان از جنگ اطلاعاتی امریکا در منطقه نگران هستند، تصریح کرد: مردم افغانستان یقین دارند که یکی از اهداف غرب در افغانستان زمینه سازی برای جنگ قومی در منطقه و افغانستان است و اگر از چنین هدفی جلوگیری به عمل نیابد، افغانستان به میدان جنگ دیگری تبدیل خواهد شد. وی با بیان این که پایگاه نظامی امریکا در حال حاضر در برخی از مناطق استراتژیک افغانستان وجود دارد، خاطر نشان کرد: در چند مرحله نیروهای امنیتی افغان، نظامیان و مربیان خارجی را به گلوله بستند و این خود به خاطر نفوذ مخالفان مسلح دولت نبود بلکه بیشتربه جهت توهین به مقدسات وارزش‌های مردم افغانستان اتفاق افتاد.
* این اقدام امریکا، بی اعتباری ارتش افغانستان در منطقه را در پی دارد
وی اظهار داشت: از جانب دیگر استقرار نیروهای اطلاعاتی امریکا این خطر را نیز در پی دارد که ارتش افغانستان برای اهداف اطلاعاتی امریکا مورد استفاده قرار گیرد که پیامد چنین عملکردی بدبینی کشورهای همسایه و منطقه نسبت به ارتش افغانستان خواهد بود.
* تغییر رویکرد امریکا از نظامی به اطلاعاتی
"وحید مژده "یکی دیگر از کارشناسان و تحلیلگران مسائل سیاسی افغانستان در مورد تغییر رویکرد امریکا در جنگ افغانستان گفت: امریکا با شکست گزینه نظامی در افغانستان به گزینه اطلاعاتی روی آورده است.
مژده جابجایی کارگزاران نظامی امریکا را نشان‌دهنده تغیر در استراتژی این کشور، از نظامی به اطلاعاتی دانست و گفت: امریکا ترفندهای تمامی نخبگان نظامی و اطلاعاتی خود را در افغانستان، یکی پس از دیگری تجربه خواهد کرد.
* شکست گزینه نظامی عامل رویکرد جدید است
این کارشناس افغان افزود: این جابجایی‌ها نشان می‌دهد که گزینه نظامی یک گزینه درست در جنگ افغانستان نبوده و بخش نظامی امریکا در افغانستان با شکست مواجه شده است و اکنون با تغییر استراتژی جنگ افغانستان، از نظامی به اطلاعاتی، افرادی در افغانستان گمارده می شوند که فعالیت‌های اطلاعاتی را روی دست گیرند.
وی گفت: تمام مقامات تازه گمارده شده، سابقه کار در سازمان سیا را دارند و به نظر می رسد که آکنون امریکا در کنار گزینه نظامی، موضوعات اطلاعاتی را نیز وارد گود می کند.
مژده با بیان این که این تصمیم امریکا (اعزام نیروهای اطلاعاتی) از تغییر عمده ای در استراتژی این کشور در جنگ افغانستان حکایت می کند، گفت: امریکا با قبول شکست نظامی در افغانستان، در تلاش است تا جنگ اطلاعاتی در افغانستان و منطقه راه اندازی کند.
* خروج نیروهای امریکایی از افغانستان، فقط نوعی تغییر جبهه است
مژده خاطر نشان کرد: قرار است امریکایی‌ها در تابستان امسال، خروج برخی از نیروهای خود را از افغانستان آغاز کند که به ظاهر خروج این نیروها با ایجاد پایگاه نظامی دائمی در افغانستان در تضاد است اما در حقیقت این مسئله تغییر جبهه نظامی به اطلاعاتی است نه خروج نظامی.
به نظر می رسد که اعزام افسران اطلاعاتی امریکا به افغانستان، بیش از آن که به منظور جلوگیری از نفوذ طالبان در درون ارگان‌های امنیتی افغانستان باشد، به منظور بسترسازی جنگ اطلاعاتی در افغانستان و منطقه است.

دغه رنګ مو ناسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان
خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸
• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مستردېږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.
دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com